# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پيژندنه !



**دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه**
**ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل**

## اوه لسمه برخه :

# د ناټو پراختيا ددی نظامي بلاك اداره كول ناشونی كوي !

ناټو د معاصرې اروپا دپاره څه شی ده؟ دغه پوښتنه ډېرزيات د لـــويديځی اروپا په ډله ايزوخبری رسنيو كښې خپريږی اوراپورته كيږی . په تيره بيا د ناټو د دفاع د وزيرانو د هغې غونډې په اړه چې تيركال كې په ويلنيوس كې جوړه شوی وه . دغې غونډې وښودل چې په ناټو كې په وروستيو لسوكلونو كې ټول منځته راغلی بدلونونه  دغه اتحاد يې دومره ستر كړی چې اداره كول يې اوس سخت سوي او حتی ناشونی ګرځيدلی دي .

څه دپاسه (۶۰ ) شپېته كاله پخوا د انګلستان *دفولټون* په ښاركې دانګليس د لمړی وزير *وينستون چرچيل* ويناد ناټو د جوړيدو بهير يې په حركت راووست  .

چرچيل په خپله دغه مشهوره وينا كې د«سړی جګړې» ايډيالوژی ته بنسټ وركړ. د شوروي اتحاد څخه د لويديځې اروپا دفاع او د دريمې نړيوالې جګړې د پيښيدو مخنيوی د بنسټيزی موخه په توګه اعلان سول .

خو اوس مهال د( ۱۹۹۰) زيږديز كال نه را پدې خوا شوروي پلوه دوارساتړون(ختيځ بلاك) وجود نه لري . يا په بل عبارت ناټو د خپل بنسټيز سيال نه بي برخی سوی . خو برسره پردې هم ناټو خپل پايښت ته دوام وركوي .

لكه چې د امريكا د «لاس انجلس ټايمز» معتبرې ورځپاڼې «د ناټو ستركېدل اوپراختيا» تر سرليك لاندی په يوه مقاله كې ليكلی : د ناټو دنظامي بلاك د پايښت واړتيا ته برائت وركول په خپلواكه ځانګه بدل سوی دی . خو نوي دندې په دومره چټكی راپيدا كيدلې لكه تر باران وروسته مرخېړی چې رامنځته كيږی . او د ناټو پراختيا هم يوه د همدغو دندو څخه ګڼل كيږی .
د ناټو د لومړنيو( ۱۲ ) دوولسوغړيو پر ځای اوس( ۲۶ ) شپږويشت هيوادونه غړيتوب لري . دغه ټلوالی اوس د پخوانی شوروي اتحاد په خاوره كې هم فعاليت كوي او اوس ګرجستان او اوكرائين هم

ناټو ته د ورننوتلو ورونه ور ټکوی . د بوسټون د پوهنتون *پروفیسر انډریو باسي ویچ* په خپله نوموړي مقاله کې دغې نتیجې ته رسیدلی چې ناټو په خپلې پراختیا سره په واقعیت کې د ځان نه د دفاع کولو دریښتونی وس د لاسه ورکول یې پیل کړی دی . کیدای سي چې دغه پروفیسر په حقه وي، خو د اروپا په زیاتیدونکی خاوره کې د ځان کلکولو هڅې بل اړخ هم لري او په لویدیځ کې پر همدغه اړخ ږغیدل نه خوښوی . خو د روسیی جمهور رئیس ولادیمیر پوتین په کریملین کې د اوکرائین د جمهور رئیس ویکتور یوشینکا سره د کتنی په وخت کې همدغه اړخ ته هم په نېغه ګوته ونیوله . د روسیی جمهور رئیس ولادیمیر پوتین وایی :«د ناټو په بلاك کې غړیتوب د هیواد د خپلواکی د محدودولو په معنا دی . که چیری اوکرائین د خپلې خپلواکی ومحدودولو ته چمتو وي، نو دا د اوکرائین خپل کورنی کار اوکړنه ده . او همدارنګه د خپل امنیت د اصولو د جوړولو د کړنلارې ټاکل هم د اوکرائین خپل کار دی . او موږ په دغه بهیر کې د لاسوهنی حق نه لرو او لاسوهنه به ونه کړو. خو زموږ پاملرنه دغه ټکی ته را ګرځوو چې د خپلواکی دغه محدودیتونه په عملی ژوند کې ټاکلی پایلې لري » .
او دا ټول په دی کې خپل انعکاس پیدا کوی چې په واشنګټن کې خپلو متحدینو ته د داهسی پولیسی ډلو په سترګه ګوری چې د نړیوال ستر قدرت دپولیسو سره په ټوله نړۍ کې د دوي د قانون او نظم په ساتلو کې مرسته کوي .
د «لاس انجلس ټایمز» ورځپانه زیاتوی : د امریکا متحد ایالتونه په دې هڅه کې دی چې د خپلو متحدینو د خاورې څخه د توغندیو د ضد دفاع د سیستم د ځینو برخو د ځای پر ځای کولو او د داهسی اډو د جوړولو دپاره کار واخلی چې په ښکاره د روسیی ضد اړخ لري . سربیره پر همدې ددې هڅې هم روانې دي چې په افغانستان کې د ناټو د پوځې عملیاتو دبهیر پیټی د امریکا د متحدو ایالتونو، کاناډا او انګلستان د اوږوڅخه لیری سي او د نورو وړو متحدینو پر اوږو باندی یې ور واچوي . د نړیوال تروریزم پر ضد د ګډې مبارزې د اړتیا په اړه هیڅوك مخالفت نه لري . همدارنګه په دی اړه هسپانوی ورځپانه «دلا ستامپه» لیکی : خو زیاتره هیوادونه د همدې په ترڅ کې د پیوستون په اړه د اعلامیو د چوکاټه نه وځي نو دا په خپل وار په ناټو کې د بیلتون او ګډوډی ویندوی اوښکارندوی دی .

# دروسیی فیدراتیف د نړیوال سولی ،ثبات اوامنیت د نوي ګډ سیستم د جوړولو وړاندیز کوي :

د روسیې وپارلمان ته د جمهور رئیس دمیتری میدویدیف پیغام چې د ګڼ شمیر عواملو د اړخه په نړۍ کې پراخ انعکاس یې پیدا کړی . اودهمدغو عواملو دجملی څخه یوهم د نړیوال امنیت د نوی سیستم دسولی اوثبات د جوړولو په اړه د روسیې د جمهور رئیس د خوا وړاندی سوی وړاندیزدی . چې دغه وړاندیز د جمهور رئیس میدویدیف وهغو هلو ځلو ته وده او ټاکلې بنه ورکوي کوم چې د بین المللی سولې، ثبات او امنیت ټینګولو ته متوجه دی . د یادولو وړ دی چې د روسیې جمهور رئیس د همدې نه مخکې د امریکا متحدو ایالتونو او په ناټو کې د دوي ومتحدینو ته یې ددې وړاندیز کړی وو چې په اروپا کې د امنیت په اړه «**هلسنکی — ۱**» ته ورته د «**هلسنکی — ۲**» تړون لاسلیك کړي . دا ځل د روسیې پارلمان ته د جمهوررئیس په پیغام کې هم دا وویل سول چې د مسکو دپاره په اروپا — اتلانتیکی فضا کې د نتیجې لاسته راوړل زیات اهمیت لري . د دیمیتری میدویدیف په نظر دغه ډول تړون ددې امکان ورکولی سي ترڅوچې د شخړو د حل په وړاندی یوواحد دریځ غوره سي، او پر وسلیو باندی د کنټرول د ټینګولو دډاډمنو وسیلو د جوړولواورامنځته کولو په اړه ګډه ژبه او ګډ دریځ دی پیدا سي .
همدارنګه د سویلی اسیتیا پر ضد د امریکا د متحدو ایالتونو او د یو شمیر نورو هیوادونو په اشاره او ملاتړ د ګرجستان دلوری ترسره سوی یرغل او برید او په همدی ډول په عراق او افغانستان کې د وسله والو شخړو دوام هم د همدغه کار د کولو غوښتنه کوي . په همدې ترڅ کې دا هم ډیره مهمه ده چې د روسیی مشرتابه ځان د ښکلو خبرو په کولو نه دی بوخت کړی بلکی د خپلو وړاندیزونو د عملی کیدو په

اړه ټاکلی اقدامات هم رامخې ته کوي . د بیلګې په توګه د روسیې پارلمان ته په پیغام کې د دولت مشر دځلورو لومړی درجه مهمو دګامونوداخیستلو وړاندیز وکړل .

**لومړی :-** د نړیوالوو اړیکو حقوقی بنسټونوته درناوي اودهغه پرځای کول باید کلك سي . د وچ زور فکتور باید کم سي او د ګډو هلو ځلو عملی کولو ته باید لاس واچول سي .

**دوهم :-** ډیرمرکزی نړیوال سیستم باید جوړ سي، او په مخکښو نړیوال انستیتوتونو کې باید بدلونونه راوستل سي . د یوه مرکز نه نړی نه سي اداره کیدلی او بایدهم اداره نه سي .

**دریم :-** ټولی کړکیچنی پیښي چې په هر ځای کې وي، باید په عمومی منل سویو دیپلوماټیکی معیارونواولارو چاروباندی خلاصی سی .

**څلورم :-** د نړیوال مالی سیستم د نویو اصولود ډیر ژر جوړولو دپاره د نړی د مخکښو هیوادونو تر منځ باید دایمی او پرله پسی ډیالوګ وساتلی سي .

د مسکو دغه وړاندیزونه ددې ویندوي دي چې روسیه د متقابل درناوی، د حقوقو د مساویتوب او د یو بل د ګټو د په پام کې نیولو د اصولو پر بنسټ د بهرنی نړی سره د رغاویز ډیالوګ د ټینګولو په هڅه کې دی .

# دروسیې دبهرنیو چارو وزیر وایی:
# امریکا باید د روسیې سره د ریښتونی ملګری په توګه،اویا د ګرجستان د خیالی پروژی تر منځ یو دی غوره کړی !

امریکا باید د روسیې سره د ریښتونی ملګری اویا د « ګرجستان د مشرتابه» سره د خیالی پروژې تر منځ یو لوری وټاکی . دا ټکی د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګی لاوروف په مسکو کې وژورنالیسټانو ته اعلان کړ.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کاندولیزا رایس د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر دې څرګندونی ته ځواب وویله . ده ژورنالیسټانو ته وویله چې واشنګټن دمسکو سره د نړیوالو مسئلو په حل کی مرستی ته ارزښت ورکوي، خو د روسیې او ګرجستان تر منځ په اوسنی شخړوکې امریکا په کلکه د تیفلیسی په لوری ولاړه ده .

نوپه دی ډول سره زیات شمیر حقایق داهسی څرګند وی چې واشنګټن په واقیعت کې د تیری کوونکی چې د خپل ملت وګړی یې ووژل او د سویلی اسیتیا د دوو زرو ملکی کسانو او د روسیې د سوله ساتوونکو دلس ګونو تنو په وژلو او د څخینوالی د ښار په ورانولو تورن . د امریکا د دولت دا دریځ د کومی سهوي منشاء نه اخلی بلکی د هغه علت دا دی چې واشنګټن هم د هغه پیل څخه د ساکاشویلی رژیم یې روزه ، پاله او وسله وال کاوه یې او د هغه سره د روسیې پر خلاف فعالیتونو کې یو لاس وو. د همدې کبله د لاس پوڅی محکومول د خپل هغه سیاست د لنډ فکری او ناکامی معنا لري چې امریکا یې د شوروي وروسته سیمه کې عملی اوترسره کوي .

د روسیې لومړی وزیر ولادیمیر پوتین په دې هکله په ډیره دقیقه توګه نظر څرګند کړی . ده ویلی چې پخپله ددې سیاست بې شرمی نه یوازی ، بلکی د هغه مقیاس د حیرانتیا وړ دی . د تور سپین ښودل، او په چالاکی سره د قربانی په توګه د تیری کوونکی ښودل او پر قربانیانو د عواقبو تپل د حیرانتیا وړ دی .خو د امریکا یې ډیپلوماسی دپاره دلته هیڅ نوی شی نسته. ځکه چې موږ په یاد لرو چې جمهور رئیس فرانکلین روزویلت په خپله د نیکاراګوا د دیکتاتور اناستاسیو ساموسا په هکله ویلی وو چې هغه په څرګنده د سپی زوی دی خو هغه (ساکاشاویلی )زموږ د سپی زوی دی .

په دې لاره د امریکا تګ د امریکا د ډیپلوماسی د غنی زیرمی بیانوونکی ندی، بلکی د سړی جګړی د وخت وسایلو او میتودونو ته د هغې د وفاداری څرګندوي دی . خو دا په هیڅ ډول ددې معنا نه لري چې روسیه او نور متمدن اوپرمختللی هیوادونه باید د واشنګټن د دې ډول سیاست سره موافقه وکړی او هغه ومنی . د ساکاشویلی تیری کوونکی رژیم ته په سویلی اسیتیا کې خوله ماتوونکی ګوزار وښوده چې

روسیه به بیا هم په کلکه او جدی توګه د نړیوالو حقونو او دخپلو ملی ګټوڅخه دفاع کوي که چیری دا کار د امریکا ډیر هم نه خوښیږی، مګرروسیه داخپل قانونی حق بولی ، اوروسیه د امریکا په وړاندی هیڅ ډول مکلفیت نه لري .
سرګی لاروف وویل :زه غواړم دغه مسئله لانور په پراخه توګه طرحه کړم او هغه دا چي واشنګټن باید بالاخره خپل لوری وټاکی چي ایا غواړی د مسکو سره په ټولو برخو کي برابره او صادقانه همکاری وکړی او که په راتلوونکی کي به بیا هم د دوه ګونو معیارونو، «خاصو پروژو» او په خپل سرتوب سیاست ته دوام ورکړي .

# ناټو په دي خبره پوهیدلی چي دمسکو سره د ګډی مرستی پرته د نړیوال امنیت د مسئلو حل ناشونی دی :

روسیه د ناټو سره د متقابلاً ګټورو اړیکو سره علاقه لري او حاضر دی د دغه تړون سره د نړیوال امنیت مهمی مسئلی وڅیړی . دغه خبره د روسیی ولس مشر دیمیتری میدویدیف په ناټو کي د روسیی د دایمی استازی دیمیتری راګوزین سره د کتنی په ترڅ کي اعلان کړ .

روسیه دناټوسره د دمتقابلوګټور اړیکوسره علاقه مندی لری اوحاضردی چي ددی سازمان سره دنړیوال امنیت مهمی مسئلی وڅیړی داټکی دروسیی ولسمشر دیمتری میدویدوف په ناټوکي دروسیی ددایمی استازی دیمتری راګوزین سره دکتنی په ترځ کي اعلان کړ دروسیی ددولت مشر وویل چي په قفقاز کي داګوست دمیاشتی ترکړکیچ وروسته دمسکواو دبروکسیل اړیکی عملاً د منځه ولاړی اودا ډیره مهمه ده چي نیم کال وروسته ناټو داخبره درک کړه چي دروسیی دمرستی پرته دناټودتړون غړی هیوادونه دهغوی په وړاندی پرتی دندی نشی حل کولای دبیلګی په توګه په افغانستان کي دنړیوال تروریزم سره مبارزه نه شی کولای ،مسکو دیخوا په شان دبروکسیل سره دنړیوال امنیت دمسئلوپه هکله دګډی همکاری پلوی دی دروسیی فیدراسیون دشمالی اتلانتیک دتړون سره دکاملومتساوالحقوقواومتقابلاً ګټورواړیکو،داهسی اړیکی چي ددریمی لوری پرضد متوجی نه وي اویوازی متقابل ګټورڅرنګوالی نه دکاغذ پرمخ نه دتشو خبروپه توګه ولری علاقمند ی لری دروسیی ددولت مشر زیاته کړه چي موږ ودی کار ته تیار یو.

په ناټو کي دروسیی دایمی استازی دیمتری راګوزین وویل چي بروکسیل اوس تیار دی چي دمسکو سره دنړیوال امنیت دټولومهمو مسائلوپه هکله خبراتری ترسره کړی دهغه جملی څخه دنړیوالوتروریزم ،سمندری غاړواودنشئی موادوسره دمبارزی په برخه کي ، په ټولیزه توګه دناټوغړیو اوس دپخوا په شان عمل نه کوی ویلی سو چي کړکیچ زموږسره داړیکو په برخه کي دهغوی په ګټه تمام سوځکه چي په دی اړیکوکي تشی اوپوچی خبری اوپروپاګندونه اوجراوبحثونه نورځای نه لري دسیاسی دیالوګ دتماسـونودپراخه ول دهمکاری دډګـرونــواو داروپایی امنیت دتړون په هکله دروسیی دنوښتونوسره علاقه مندی زیاته سوی ده په حین وخت کي دناټوسرمنشی هاپ دهوپ شیفر وویل چي په نړی کي امن اوثبات په مستقیمه توګه دناټواودروسیی په مرستو سره تړلی دي،ده افغانستان ته دروسیی دخاوری د لاری نه دناټو ځواکونوته دمالونودترانزیت موافقه عالی ارزیابی کړاو داکاریي دکرملین اوناټوپه اړیکو کي دنوی پړاو پیل وباله ، اوشیفراقرار کوی چي د تړون په نه شتون سره دمسکوسره دګډی همکاری پرته نه ورځ نړیوال مسئلي نشی حل کیدلای .

# لویدیځ هیوادونه د تیری کوونکی ګرجستان څخه په دفاع کولو جیوپولیټیکی لوبی تر سره کوي :

لویدیځ هیوادونه د ګرجستان د ګټو څخه په دفاع کولو جیوپولیټیکی لوبی ترسره کوي او د بشر د حقونو او دموکراسی په هکله سوچ نه کوي . دا ټکی د روسیي د دولتی دوما (پارلمان) د نړیوالو اړیکو د کمیټی

رئیس کونستانتین کوساچیف د امریکا د سي ان ان تلویزیون سره په یوه مرکه کې څرګنده کړی ده .

ده وویل : دې ټکی ته تاسی پام وکړي چې امریکا او د هغی نړدی متحدین یوازی د ګرجستان سره د مرستی کولو خبری کوي . دا مرستی مالی، اقتصادی او په څرګنده توګه سره پوځی مرستی دي . د امریکا د بهرنیو چارو وزیره کاندولیزا رایس د ساکاشویلی د رژیم د لوری پر سویلی اسیتیا باندی دیرغل وروسته ،سمدلاسه تیفلیس ته راغله نه سویلی اسیتیا ته چې تیری وربادی سوي وو. په امریکا او په یو شمیر اروپایی هیوادونو کې سیاست پوهانو په ګرجستان کې د پوځی اډیو او د یو لړ نورو پوځې جوړښتونو د بمبارده ولو څخه شکایت کوي . خو کله چې د سخینوالی پر ښار د «ګراد» او نورو درندو وسلیو برید روان وو، دوي پټه خوله وو. هلته ښوونځی، وړکتونونه، روغتونونه او د استوګنی کورونه وران سول . د رسمی خبرواورپوټونوپربنسټ تر(۲۰۰۰) دوو زرو زیات کسان ووژل سول او زرګونه تنه نور ټپیان سول .
د ګرجستان دجمهور رئیس ساکاشویلی رژیم په سویلی اسیتیا کې داولسی خلکوپه وژنه یې لاس پوری کړ او دا جمهوری یې د بشری ناتار سره مخامخ کړ، یوازی د روسیې د خوا سولی ته د اړ ایستلو د پوځی عملیاتو په نتیجه کې په قفقاز کې د لوی اور مخه ونیوله سوه .
خو واشنګټن او د ناټو یو شمیر نوری پلازمینی هیڅ څه نه وینی . دوي یوازی په دی هکله سوچ کوي چې په څه ډول کولای سي روسیه ښه مجازات کړی . دوي د ملکی خلکو د حقونو او نړیوالو نورمونو په هکله یوه خبره هم نده کړی . ساکاشویلی د تیری په درشل کې په کلکه ویل چې د سویلی اسیتیا ستونزه به یوازی د سوله ایزی لاری حل کړی . دا خبره هم اوس هیره سوي چې مسکو څو ځله امریکا او ناټو ته د ګرجستان د لوری د تیری په هکله خبرداری ورکړی وو . ددې ټولو علت د دوګونو معیارونو سیاست دی چې واشنګټن او د هغه متحدین یې ترسره کوي اوعملی کوي .
انګلیسی «ګارډین» ورځپاڼه په دی هکله لیکی چې خبره د روسیې پر تیری نه، بلکی د خپل ګرجی لاس پوڅی په وسیله د امریکا پر تیری مطرح ده . ورځپاڼه زیاتوی چې په سویلی اسیتیا کی شخړه د امریکا د اوسنی اداری ډیر پراخ پلانونه په نړی کې د امریکایی سلطی او واک د ټینګولو او د هر ډول سیمه ایزو چلنجونو د له منځه وړلو په هکله څرګندوی .
روسیې په ښکاره توګه د ساکاشویلی رژیم پر پزه یې وواهه او د هغو کسانوچې د دی لاس پوڅی په جیوپولیټیکی لوبو کې ګټه ورنه اخلی مخه یې په کلکه سره ونیوله .

# روسیې نوي توپول توغندی یې وازماویل او د ناټوغړي

# هیوادونه یې هک پک کړې



دروسيي ولسمشر ديميتري ميدويديف د(**۲۰۰۸**)زیږدیزکال داکتوبردمیاشتی پر(**۱۲مه**) دوولسمه نیټه باندی دیوې وچې نه وبلې وچې ته دویشتونکي توپول توغندي ازموینه ولیدل . دماسکو څخه دفرانسي دخبري اژانس دیورپورټ پربنسټ دروسیي ولسمشر دیمیتري میدویدیف د یوې لوې وچې څخه وبلې لوې وچې ته دویشتونکي توپول توغندی ازموینه ولیدل او ژمنه یې وکړه چې دروسېې دوسله والو ځواکونو دپاره دنویو وسلیو دجوړولو امر به ورکړي .

درویټرز دخبري اژانس یو خبریال وویل چې له پلیستیسک کوسمودروم څخه توپول توغندی نن سهار په داهسې حال کښې چې باران اوریده دغه توغندی وازمایل سواو توغندی نیم ساعت وروسته په ارام سمندرګي کښې په کمچاتکا ټاپووزمې کښې( ۶ ) شپږزره کلومیټره لیرې د کورا ازموین ځای کې ولګید.

توپول توغندی (**۲۱،۲۵**)یویشت اعشاریه پینځه میټره اوږدوالی لري .

دروسیي دسمندري ځواک ویاندوویل چې ددغه هیواد اټومي اوبتلو هم د ارام سمندرګي او بیرنټس سمندرګي څخه دروسیي دننه دوه بلاستیک توغندي په بریالیتوب سره په خپلوټاکل سویوموخو باندی وویشتل .

دروسیي ولسمشر چې دتیرکال د مي په میاشتي کښې ولسمشرو ټاکل سو په دی هکله یې اوژمنه کړې ووچې وسله وال ځواک به پیاوړي کوي او همدارنګه یې داخبره په تیرې اګست میاشتي کښې بل ځل د ګرجستان سره د دوسویلی اوسیتیا او ابخازیا په سر له پېنځه ورځني جنګ وروسته بیا تکرارکړل ،چې «خپل وسله وال ځواکونه پیاوړي کړي » .

په سویلی اوسیتیا او ابخازیاکې دګرجستان دیرغل راوروسته دروسیي دخوا په غبرګون پسي داروپاي اتحا دیې هیوادونو، امریکا اود روسیي ترمینځ اړیکې خړې پړې سوي وې .

او همدارنګه په یوبل رپورټ کې د روسیي د ستراتیژیکو توغندویو د قومندانی ویاند خبر ورکړ چې د اوږد واټن ویشتونکی (توپول) توغندی د روسیي د فضایی اډی (پلیستسک) څخه و توغول سو، اودغه توغندی په بریالیتوب سره خپله موخه یې د کامکجاتکا په سیمه کې د مینځه یوړل.

نوموړی ویاند زیاته کړه چه د توپول( **۴۵** ) پینځه څلویښت ټنه دروند توغندی کولای سی د( **۱۰۰۰۰**) لسو زرو کیلومټرو په واټن کې ددښمن دموخو اوپټن ځایونو د له مینځه وړلو تضمین ورکړی .

**د(** **۱۹۷۷**) زیږدیز کال را په دی خوا د توپول پر توغندیوباندی کار پیل سوي دی او په (**۱۹۸۳**) زیږدیز کال کې په لومړی ځل وازمویل سو.

دبل خوا نه یوې روسیی ورځپاڼې خبر ورکړ چې په ناټو کې روسیی استازی دیمتری راګوزین په ډاګه کړې چې د روسیي په سیمو کې د ناټو هر ډول مداخله به د جنګ د اعلان په نوم وي. دا په داهسې حال کې ده چه په سویلی اوستیا کې روسیی ځواکونه یوه لویه اډه جوړوی ، فاکس نیوز هم په یوخبر کې وویل چې د ګرجستان یوې ځارګرې الوتکې د سویلی اوستیا په سیمه کې د روسیی ځواکونو دخوا ویشتل سوي او را نسکوره سوي ده .

(نوربیا،په اتلسمه برخه کې ادامه لري) اخیځلیک : د ریانووستی څخه